لیکونکی : سونا لی کواهاتکر (Sonali Kolhatkar)

منبع او خپریدو نیټه : کما ن ډریم «07-02-2020».

ژباړونکی : پوهندوی دوکتور سید حسا م «مل» .

----------[ 15 ]----------------------------------------------------------

## دکرونا ویروس ویره د ملت پالني رنځپوهنه په ډاګه کوي

**The coronavirus panic exposes the pathalogy of Nationalism**

دامریکا لمړي نظر دملتپا ل پا پلیزم دهر هغه څه سره خلاف دي چي موږ یي په نړیواله روغتیا با ور لرو

***The Idea of America first , the nationalist populism, is against everything that we believe in ,in global health***



لارنس او ګوستېین (پورته عکس کې) د ساري ناروغیو او نړیوال روغتیا یو مخکښ کارپوه دی ، او د جورج تا ون پوهنتون کې د عامې روغتیا پروفیسور دی ، چیرې چې هغه د نړیوال او نړیوال روغتیا قانون کې د نړیوال روغتیا سازمان همکاری مرکز لارښوونه کوي. (عکس د چپ سوموډیلا / ګیټې عکسونو لخوا).

له کلونو څخه راهیسي سا ینس پوها نود مقا وم با کتریا اود ځنی نورو سا ری نا روغیو دعا مل په ا ړین چی د درمل په مقا بل کي مقاوم شوی دي خبرداری ورکړي کوم چي دغه د ناروغیو سببی عوا مل (مکروبونه) په صنعتی کرهنی کي د ضد مکروبی دواګانو له کا ر اخیستو او هم د آ ب و هوا له تغیراتو څخه مقا وم شوی دي اودهمدی اصل په نظرکی نیولو سره ددی نوی ناروغي ویره کوم چي دهغه درملنی لپاره لاتراوسه کومه موثر درمل نه دی پیژندل شوی یا داچي اصلاً داسی کوم درمل وجود نه لری نو دځنګل داور په څیر خپریږي کوم چی دکتابونواودعلمی تخیلی فلمونو دتوطیو اسا س ګڼل کیږی یا چی اسا س ګڼل شوی .مونږ مخکی د **سا رس** ( SARS) **ایبولا** (Ebola) **مرغی انفلو انزا** (avian Flu) څخه جد ی ډار لرل- نن ورځ مونږ یو اسرار آمیز جد ی ناروغی سره مخا مخ یو د **کرونا** ویروس نا رغي یعنی چي هغه د **کرونا** دویروس نژاد ( strain) پرته له زیا ن د(nCov) کا ل (2019) بیمائری په نوم نومول شوی دي نودهغه په برخه کی دهغه پراغیزو باندي د برق آ سا په بڼی سره غلط اطلاعات خپور شوی کوم چي د ډار، سردرګمی او دپردیو څخه ډار (xenophobia) سبب رامینځته کړي ، اما هغه څه چي مونږ پوهیږو هغه دادي چي دغه ویروس په چټکی سره دخپریدو په حا ل کی دي نو د دی ویروس له خطر څخه د مخنیوي په مقصد پولی او سرحدونه تړل شوی ا لوتنی درول شوی پر سفرونو با ندی بند یز لګول شوی کوم چی له یوسره نژاد پا لنی ته لمن وهل کیږی یا چي نژاد پا لنه مخ په زیا تید و کړي دي .

**لارنس اوګوستین** د سا ری نا روغیو اوپه نړیوال روغتیایی سا زمان (WHO) کی یومخکښ کا رپوه متخصص اود **جورج تا ون په پوهنتون** (George Town University ) کی دعا می روغتیا د څا نګي پروفیسور اود نړی د سرتا سری لپا ره په نړیوا ل سا زما ن کی د روغتیایی قوانینو په رامینځته کولو او دهمدی سازما ن په مرکز کي لارښود دی هغه همد ارنګه د **لانسټ** (Lancet) په کمیسون کی د نړیوال روغتیا مرستند وی اوهم په دوه جلسا تو کي ګډون کړی کوم چي په کا ل (2015) په ولویدیځ افریقا کی د **ایبولا** د ناروغی څخه تر لاسه شوی درسونه تنظیم کید ل، هغه یعنی **لارنس** د دی ترلاسه شوی درسونو په تنظیم او د هغه په ګذارش دهی کی سترونډ ه ترسره کړي هغه یعنی **لارنس** ما ته تشریح کړچي دکرونا ویروس په اړه لاتراوسه کا فی پیژند ګلوی په لاس کي نشته ، مګر تردی دمه داسي برېښی چي له دی ویروس څخه د مړینی کچه تیټ دي » اما **دا نفلو انزا** په پرتله له هغه څخه دمړینی کچه لوړ اود **سا رس** (SARS = sever acut respiratory syndro ) یا دمینځنی ختیځ تنفسی سندروم (MERS = Middle East Respiratory Syndrom ) څخه را تیټ دی ، هغه څه چی مونږ پوهیږو

هغه وویل : دا ناروغي واقعاً چې یو نړیوال خطرناک ګواښ دي .

ددي نوی ناروغي څخه ویره د چینیا یی خلکو اود خلکو په مینځ کي چې دچینایی په هویت یا په توګه پیژندل شوی نو په دی اړه دنژاد پرستی ډیری راپوررکړ شوی پیښی را مینځته کړي یا چې د چینیا نو په اړه د نژاد پرستی احسا سا ت دهغو په مقا بل کی راپا رید لی دي. د متحده ایالاتو په پوهنتونونو کي آ سیا یی محصلان اوآسیا یی امریکایی زده کونکی تر ډیر فشار لاندی راغلی کوم چي هغو ته په یو ډول **داورانه** بنی سره کتل کیږي اوهم په ظاهرکی له هغو څخه د بیګا نه پرستي کچه زیاته شوی دي – لاس انجلس ټایم له یوی ښځینه زده کونکی څخه په حسابی بنی دا سی نقل قول کوي :« هغی داسی فکر کوي **دکرونا ویروس** دنژاد پرستی پټ احساسات سطح ته را پوړرته کړ یعنی دنژادپرستی احسا سا ت چي په ځنو خلکو کی پټ وه ددی ناروغی پواسطه سره برپنډ او ښکا ره شو ».

**لارنس ګواستن** دا ډول برید ونه اویا ټکلونه «بشپړه شرموونکی » ، «غیر قابل کنترول» اود اخلاق له نظره غلط اونا سم وبلل .هغه له کلونو کلونو را هیسی چی دنړیوال ساری ناروغیو پراغیزوباندي دخپل مطالعاتوپه لړکي تجربی ترلاسه کړي وویل :مونږ اکثراً دا ډول برخوردونه په ساری ناروغیو کی تر سره کوو یعنی چی مونږ له ساری نا روغیو څخه قربا نی شوی خلک ملامتوو ؟

دا نا روغي څنګه اوله کوم ځای څخه سر راپورته کړ؟ **ګوستین** توضیح کړ چی ددی سا ری




**زبا د پشږګي** **خفا ش (ماښا م ځکلکي)**

نا روغی دعا مل مرکز د **چین** د (**اوها ن** ) په یوه حیوا ني با زار ( نخا س) کی وه کوم چي هغه مارکیټ د چینیا یی روغتیا یی مسولو مقا ما تو پواسطه سره په ډیر چټکی سره ضد عفونی اوبلکل له مینځه ویوړل شو.مونږ پوهیږو چي په کا ل (2002) کي د **سا رس** وژونکي ناروغي د **چین** له جنوب څخه را مینځته شو اومخکی له دی چي دغه ناروغی مهارکړل شی په سلګونو

خلک یی ووژل نووروسته داسی وانګیرل شو چي **سا رس** له یو ډول **ما ښا م څکلکي** ( خفا ش = چرمی شوپرک) څخه سرایت کړی یعنی چی د نا روغی ویروس په همد ی ډول شوپرک کي وه چي بیا وروسته په نا ځا پی بڼی سره په یو بل ډول ګونه (species) چی د **سیبیتس** ( civets = د **زبا د** پشوګي په نوم چي یو تیی لرونکی غوښی خوړونکي حیوان د**زبا دان** له کورنی څخه یوغړی دي یعنی دا سی یو حیوان دی چي د خپل مقعدی غد و څخه غوړینی خوشبوی مواد ترشح کوي کوم چی ددی ویروس کوربتوب کړی...تفصیل ددی قلم پواسطه ) په نوم سره جهش یا موتیشن کړیدی . نو داسی انګیرل کیږي چي د حیوانا تو مارکیټ کی د داسی حیواناتو په لرلو کوم چی دویروس کوربه ( ویکتور) دي د نا روغی عامل انسان ته ورنقلوی یا سرایت ورکوی - اما هغه څه چي دیا دو نی وړدی هغه دادی چی ددي ډول ځایونو اومارکیټونو بلکل له مینځه وړل یو څه ستونزمن کار دی او هغه ځکه چي مرطوب مارکیټونه ( Wet Markets) د چنیا یا نو دفرهنګ یوه برخه تشکیلوی اوپه واقیعت کي زه د یو هندی په عنوان په هندوستان اوبیا په ځانګړي ډول دهندوستان په لویو ښارونو کي می دا ډول مارکیټونه په یا د راوړی کوم چي مشتریا نو له تولید کونکو بزګرانو څخه غوښی اود چرګا نو تا زه غوښی پیرود لی .

البته دا ډ یر آسا نه دي چی **چین** ددی ناروعی له امله ګرم یا ملامت وګڼل شي که څه هم چي غربی حکومتونه خوښ دی چی له **چین** سره راکړی ورکړی یا سوداګری کوی یعنی داسی یو هیوادسره کوم چی د نړی د مشتریا نو لپا ره د نړیوا ل دا قتصا د د سمون په منظور ارزان مصرفه توکی تولیدوی - اما غربی سیاستمداران او دهغوی رسنی یا مید یا په ښکا ره بڼی سره پر **چین** باندی نیوکی کوی چي **چین** د بشر حقونو ته درناوی نه کوي حال داچی بیا همدغه غربی رسنی هیڅکله هم د مهاجرو اود زندانی افرادو په اړه کوم چی غربی هیوادونه دهغو سره نا روا چلند تر سره کوی څه یاونه نه کوي یا داچي چپ پاتی کیږی لکه هغسی چی د امریکی دمتحده ایالاتو دبهرنیوچا رو وزیر (**پمپیو**) یواځی د**چین** له کمونیست حزب څخه ( زمونږ دوخت اصلی ګواښ) په توګه اشا ره وکړ اواروپا ته یی خپل وروستی سفر د **چین** د خطراتو په هکله خپل متحد ینو ته د خبرداری په ورکولو باند ي متمرکز کړ .

**چین** نه بی ګنا ه دي او نه هم د دی ډول تهد ید وړ دی کوم چي (**پمپیو**) ادعا کوی بلکه مسولیت د هغه چا پرغا ړه دی چی ددی څو اونی فشا رچی د نوموړی نا روغی له کبله پر نړي با ندی راغلی دی نړیوال روغیتیا یی سازمان (WHO) ته ددی ناروغی دواقعاتو خبرداری نه دی ورکړي . **ګوستین** توضیح ورکړ : چی په دی وخت کی پنځه ملیونه خلکو د (وهان) ښا ر

*د نوی قمری کا ل د خپل سنتی سفر لپا ره ترک کړاوپه سفر لاړل کوم چی دا سنتی سفر ورځی ددی لامل یا موجب شو چي د نا روغی لمن پراخه شی اودهغه د مها رکیدو په برخه کي علط محا سبه تر سره شي .*

***هغه څه چي هغه وړاندي کوي د نړۍ په کچه د ښی اړخ پوپولیزم دراپیداکید ودروش مخا لف دی کوم چي په ا منیتی برخو کی د همکا ری ،پیوستون او لویی پا ڼګوني پر ځای په قوی سرحدونو ، ملت پا لني اوبی نظمیو با ندي ډ یر با ور لري .***

***گوستین*** *همدارنګه پر**چین** با ند ي نیوکي کوي چي(پنځوس) ملیونه* ***چنیا یا ن*** *یی پخپلو کورونو کی محا صره یا قرنطین کړي دی کوم چی د نړۍ په تاریځ کی دا ډول جمعی قرنطین لاتراوسه نه دی ثبت شوی اودا د لمړی ځل لپا ره هسی یو بی سا ری او بی سا بقه د جمعی خلکو قرنطین کول دی چي په مد رن* ***چین*** *کی ترسره کیږي.هغه توضیح ورکړ: دا دبشریت په تاریخ کي ډیر بی ساری اوبی سابقه اویا داچي بی له* ***چین*** *څخه دخلکو ددی ډول قرنطین رامینځته کیدل په نورو هیوادونو کی غیر قا بل تصور دي . یا داچی دا ډول قرنطین خپله زیا ت یو ډول غیر اخلاقی برخورد یا تګل دي ،* ***گوستین*** *په دی با ور دي چي دا ډول قرنطین ممکن ګټور اویا موثر ونه او سیږي اوداځکه چي دعا می روغتیا لمړني اسا س یا قاعده د خلکو دبا ور مندی او درضا یت تر لاسه کول دي ، مګرد ډله ایزو راپورونو له مخي کوم چي ډیر خلک قرنطین شوی دي نو دهغوی دویری او ډار موجب ګرځید لي کوم چی دا د هر چا لپا ره د یو طبعی غبرګون احسا س دی لکه هسی چي څوک د سا ری ناروغیو په سیمه کي لکه د (**گونیا پک** =Gunea Pig = هندی ځنا ور) په څیر ترڅا رنی اوقرنطین لاندی ونیول شي هغه یعنی* ***گوستین*** *توضیح کړ **:** کله چی خلک په لومه کی ولویږي نویو اوبل ته ناروغی نقلوی اوکله چی قرنطین له مینځه لاړ شی نوهغوی د مسولو خلکو له قرنطین څخه راوځی یا چی هغوی پریښودل کیږی چی له دی وجهی څخه هغوی ناهیلی اوپه تشویش اخته کیږی اویا داچی هغوی دهمدی نا هیلو او تشویش په پا یله کی په ځنو روا نی نا روغیو با ندی اخته کیږی چی دهغوی روانی سلامتی ته پوره ضرر رسوي .*

*برڅیره پردي چی **«چین»** یو څه تورن کیږی یا چی ګرم بلل کیږي ، نو دلته په متحده ایالاتو کي هم یولړ ډیر ژور اندیښنی شتون لري چي آیا د**دونالد ترامپ** اداره دهمه ګیر (Pandemic) ناروغیو دمخنیوی لپاره چمتوالي لري ؟ هسی چي د **ترامپ** تر مشری لاندي د هغه مخکینی دامنیت سلاکا ر **جا ن بولتون** پواسطه سره د ملی ا منیت د شورا د نړیوا ل روغتیا ا منیتی ټیم*

*منحل اوله مینځه ویوړل شو . د **ما در جونز** (Mother Jones) په وینا دغه ټیم د نړی په کچه د سا ری ناروغیو ډ له یا ټیم اودعا می روغتیا د کا رپوها نویوه ډله چي دهمغړي په لرلو سره د **با یو د یفنس**( Biodefense = بیوډیفینس د ژوندیوژیو ګروپ ته د ژیو د امنیت بیرته راوستلو لپاره اقداما ت ته اشا ره کوي څوک چې د بیولوژیکي ګوا ښونو یا سا ري ناروغیو تا بع دي ، یا کیدی شي. **با یوډفینس** په مکرر ډول د **با یووا** ر یا **با یوټریریزم** په شرایطو بحث کیږي ، او په عمومي ډول د اردو یا ا ضطراري ځواب اصطلاح ګڼل کیږي. .....تفصیل ددی قلم پواسطه )*

*پرملی استراتیژی باندي کارکول اوغوښتل چی د نورو ا ړینو ادارومرسته دغه ملی استراتیژی ته راجلب کړي ترڅو چي وکړي شی متحده ایالات د سا ری اودهمه ګیر نا روغیو د ګواښونو اود تهد ید ا تو په وړاندی لا ډیر مقا ومت تر لا سه کړي ، له بلی خوا څخه بل اند یښنه دادي چي **دونا لډ ترامپ** د هغه روغتیایي پروګرامونو ځا نګړ کړي شوی بود یجه هم را ټیټه کړ کوم چی دایوه ډیربله قوی ضربه د عا می روغتیا په برخه کي دي .**ګوستین** په دی اندیښمن دی چی ددی ماهری یا دروغتیا دکارپو هانو ډلی لیری کول ویا دهغوی دهمغړی په فعالیتونو کی دسپین ماڼی له خوا دخنډونوځیږول یوه بله جدی ستونزه دي کوم چي مونږ د دی ډول پیښی در امینځته کید و ا نتظا ر نه درلود – هغه یادونه وکړ : دنا روغیو څخه دمتحده ایالاتو د کنترول مرکزونه هم په د با ندي کی یا دهیواد څخه بهر دخپل فعالیتونو دسرته رسولو لازمه بود یجه یا ما لي لګښتونه هم کمه کړي نو **ګواستین** په خواشینی سره وویل : مونږ له تا ریخ څخه لوست نه زده کوو ، مونږ یواځی هغه وخت له ناروغی څخه ناراحت کیږو یا ناررضایتی کوو چي په تنګ راشو کوم چي داپخبله دچمتوالي لپا ره ستر لاره نه دي . خطرناکو ناروغیو پراختیا اوخپریدل ټول هغه غیر قابل اجتنا ب دی کوم چي تیروکلونه ښودلی دي **ګواستین** وایي :چي ددی پر ځای چي دهری نوی نا روغي لپا ره دهغه دحل په لاره کي پانګونی وشي یا داچي د حل دلاری په کم ارزا ن سیستمونو باندي فکر وشی کوم چی نوموړی سیستمونه وشی کړی چی د نا روغی مخه په آسا نه سره ونیسی لازم نه دي چي په ډیر لوی اومدرن او په ډ یرو لوی بود جي سره د ناروغیو د حل په لاره کي پا نګوني وشی کوم چي هیڅ کیفیت هم ونه لری . هغه وړاند یز کوي چي هغه دنړي په کچه دښی اړخ پو پو لیزم د سلوک سره مخا لف دي چي په امنیتی شبکو کي دهمکاری ، پیوستون اودلوي پانګوني پرځای د سرحدونو په کلک تړنی ، ملتپالني اوبی نظمیو باندی باور ولري .*

*د نړیوال روغتیا ما هر په توګه ، **ګوسټین** ترټولو د خپل مهم پیغا م په ټینګار سره وویل چې هغه غواړي د **کورونویرس** په اړه اند یښمنو خلکو ته دا پیغا م ورسوي: "د متحده ایالاتو لومړی*

*نظر ، د **ملتپا ل پاپولیزم** نظر د هر هغه څه په خلا ف دی چې مورږ یې په نړیوال روغتیا با ور لرو." ، "مورږ پر متقا بل پیوستون باور لرو ، مورږ د نړۍ د روغتیا سازمان او ملګرو ملتونو په څیر قوي بنسټونو باندې باور لرو مورږ په نړیوا لې همکا رۍ با ور لرو. دا ټول هغه با ورونه دی چې د **ترمپ** د اداري لخوا منل شوي دي. ".*

***---------------------------------------- په سلامونو « 2020-02-10»***

*بیوډیفینس د ژوندیوژیو ګروپ ته د ژیو د امنیت بیرته راوستلو لپاره اقدامات ته اشاره کوي څوک چې د بیولوژیکي ګواښونو یا ساري ناروغیو تابع دي ، یا کیدی شي. بایوډفینس په مکرر ډول د بایووار یا بایوتریریزم په شرایطو بحث کیږي ، او په عمومي ډول د اردو یا اضطراري ځواب اصطلاح ګ ډs کیږي.*